افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

داحمدشاه وردګ ژباړه

۰۵ جون ۲۰۱۲

# امپراتوری په بحران کی

*دمارچ په لسمه دیونګه ولت ورځپاڼی اودمارکس-انګلس بنسټ د«یورو یرغلیزامپریالیزم» ترسرلیک لاندی یو کنفرانس جوړ کړ. په دی کنفرانس کی تر ۷۰ ډیرو شخصیتونو ګډون کړی و. ډیرو وېناوالو وېناوی وکړی چی ددوی ترمنځ نومیالی مارکسیست اقتصاد پوه راینر روپ هم وینا وکړه چی دوینا ټینټو متن یی تاسی ته وړاندی کیږی:*

«اقتصادی بحران چی ځلورکاله وړاندی پیل شوی، نه غواړی چی پای ته ورسیږی. ددی بحران ریښی د بانکونو دحرص اودقوانینو اومقرراتو دنشتون او نورو بهانو څخه ډیری ژوری دی کومی چی دعامه افکارو دډوکه کولو لپاره ویل کیږی. ولی بنسټیزه ستونزه دپانګوالی په سیستم کی پرته ده. ددی بحران چی په پایله کی یی د ملیونونو زیارکښو انسانانو شتون له ګواښ سره مخ شوی، تیر لید(سابقه) ۱۹۷۱ کال ته ورګرځی. په همدی کال دلودیځ دمالی اقتصاد دجوړښت بنسټ کښېښول شو. په ریښتینی توګه دغه نوی جوړښت دپیسو دلاس ته راوړلو په یوه لویه قمارخانه بدل شو په داسی حال کی چی په تیرو لسیزو کی ډیری نوی طبقی دمالی زیرمو څخه ترمورګو ډکی شوی. دا کړنلاره ترهغه مخکی لاړه ترڅو په ۲۰۰۸ کال کی تولید وچاودید.
۱۹۷۱کال په واقعیت کی له دوهمی نړیوالی جګړی راوروسته دلودیځ داقتصادی پراختیا دوهم فازو، څرنګه چی دامریکی دمتحده ایالتونو دفدرال بانک پخوانی رییس پل ولکرڅرګندوی:« په دی کال کی د امریکی دمتحده ایالتونو دجمهورریيس ریچارد نکسون په واسطه  دسروزرو د استاندارد په له منځه وړلو سره اوپه ۱۹۴۴کال د برتون وود دارزی سیستم په ورانولو سره چی هرڅه به په پولی سیستم دټاکلی ارزی بیی سره سم « دکنترول شوی نړیوال اقتصادی سیستم» په دړی وړی کیدو لپاره جوړ شوی و، پیل شو».
دجوړښت دغه رهبری شوی بدلون یو اړین کارو چی دهغه پواسطه له دوهمی نړیوالی جګړی وروسته دامریکی متحده ایالتونوپه اقتصادی او سیاسی ډګر خپله ولکه ټینګوله. ځکه دغه ولکه په پخوانیو لارو چیرته به چی مالی مازاد له اروپا اوآسیا څخه په هوشمندانه توګه بیرته امریکا ته راتلل ، ناشونی و. دیورنو په ورکړه کی دبیلانس

لپاره او دامریکی دبودجی لپاره په مازادو کی ډیروالی دجګړی راوروسته دوو لسیزو کی (د۶۰ لسیزو پای) په بودجه کی د ډیرلوی کسر باعث شول. دامریکی دپانګی صادارات چی دلودیځ دمخ پرودی اقتصاد دچلولو تسمه وه، په ۱۹۷۱ کال له کړکیچ سره مخ شو او په ټپه ودرید. په دی ټکی اعتراف کول په حقیقت کی په لودیځو هیوادونو دامریکی دمتحده ایالتونو داقتصادی اوسیاسی مشرتابه دپای ټکی و.

**دسوداګری دیوه ماډل پای**

دواشنګټن مشرتابه ددی پرځای چی دسپما پواسطه دبودجی کسر راټیټ کړی په یوه خطرناکه لوبه پیل وکړ او دبودجی کسر یی لاپسی ډیر او ډیر کړ.

چا باید دبودجی ددی کسر بیه ورکړی وای؟ دنړی پاته هیوادونو؟ څه ډول؟ دپانګی په متداوم لیرد چی داړتیا له مخی دآرام سمندر او اطلس سمندر له لارو شمالی امریکی ته په لاری شوی. دامریکی داقتصاد دبودجی (سوداګریزاو دولتی بیلان) دوه چنده دیوی لویی بریښنایی جارو په واسطه په لسو کلونو کی وزبیښل شوی. امریکایی ډالر دغه شین رنګه کاغذ دنورو هیوادونو دتولیدونکو لپاره دسروزرو او آن ترسروزرو ډیر ارزښتناک و.ځکه په ظاهری توګه دغه کاغذ یوه با اعتباره پیسه وه او ډیره ګټه یی هم له ځانه سره درلوده. ډالر ته به دبدو ورځو دضامن «دارزونوزیرمه» په سترګه کتل کیدل اویا به هم دوارداتو بیی پری پریکیدلی. په خاصه توګه له نورو هیوادونو څخه دلومړنیو اړینو توکیو په رانیولو کی. که څه هم دبودجی د سمبالولولپاره په نړیواله کچه داقتصادی نا انډولتوب لپاره ترټولو زښت کارو ولی دګټی وړونکو لپاره یی دنړیوال توازن معنی درلوده. نړیوال سوداګریز سیستم په چټکی سره مخ پرودی روان واودډیرو ناپیژاندو تجاری خوځښتونو د ویښتیا سبب وګرځید. آن تراوړدی مودی چی په ظاهری توګه اقتصادی ټیکاو او پرمختګ روان و، په هغه هیوادونو کی چی په دی کارکی ښکیل و واکمنی طبقی ډیر ګټی لاس ته راوړی او همدارنګه دکارګرانو دځینو برخو سوکالی هم یوڅه وده وکړه.
دغه جوړښت(میکانیسم) ددی باعث شو چی دلویو پانګو لکه آلمان،جاپان او دتیلوتولیدونکو هیوادونه او په وروستیو کی چین خپل کالی اونور تولیدی خدمات د امریکی لوی ځواکمن اودپیرلو د وړتیا درلودونکی اقتصاد ته ورکښ کړی. دنوموړو هیوادونو د ټولی ګټی ۷۰ سلنه بیرته امریکی ته لاړه او هلته دوال ستریت پواسطه بیرته دنړی په نوروهیوادونو کی دونډو او مالی محصولاتو په بڼه په پانګه واچول شوه.
څرنګه چی وویل شول دا پل ولکر و چی په ۱۹۷۱ کال کی یی هغه ستونزی په نښه کړی چی دامریکی دمتحده ایالتونو پروړاندی پرتی وی. دوی باید داقتصادی سپما اودامریکی دسوداګری دکچی په راټیټولو سره دخپلو اقتصادی او ژیوپولټیکی اغیزو څخه په شا شوی وای اویایی په وال ستریت کی دبدلونونو په راوستلو سره خپله ولکه دامریکی په سوداګریزو شریکو هیوادونو نوره هم ټینګه کړی وای. له دی پورته امریکایی ډالر چی له جګړی وروسته یی په نړیواله سطحه د ارزی زیرمی ( ذخیره ارزی) رول لوبولی، دامریکی سره خپلو موخو ته درسیدو لپاره لویه مرسته کړی.
په وروسته څلورو لسیزو کی دامریکی متحده ایالتونه وتوانیدل چی خپله نړیواله ولکه ترهغی کچی ټینګه کړی چی دنړی په یوازینی زبرځواک بدل شی او دا ټول اعتبار یی پرته له دی چی ډیر څه ترسره کړی لاس ته راوړ اوپه نړی کی په ډیرو پارونکومالی زیرمو او دپورونو په درندو پیټوچه په وار وار ډیریږی، خپله ولکه ټینګه او لاپسی ټینګه کړی.

واشنګټن په همدی وخت کی توان درلود چی په پراخه پیمانه توپ او ټوپک اونوری وسلی ولری. او اوس دا ټول نعمتونه دبحران(کړکیچ) په وجه له خطر سره مخ دی. دکاغذو څو پوړیزه کورنه نړید لی او دبیا رغونی مجال یی نشته. ځکه دامریکی نړیوال شریکان نور د سوځیدلو ګوتو په څیر دی. درواغ یی رسوا شوی او اعتماد له منځه تللی دی.

په طبیعی توګه تراوسه ځینی هیوادونه لکه چین شته چی د بدیل دنشتون په صورت کی دخپلو مازادو یوه برخه په امریکایی ډالرو ارزوی. ولی د ډالرو نه پرته او دامریکی د شتمنی نه پرته دا کارپه ټوله نړی کی پرمخ روان دی. دمثال په توګه چین زده کړی چی داقتصادی پراختیا پروړاندی دځان ساتنی لپاره دخپل کورنی بازار په پراختیا تکیه وکړی. دپکن مشرتابه زیار باسی ترڅو داسی جوړښتونه رامنځ ته کړی چی دکورنی بازار لپاره تولید وکړی. په جاپان کی دغه مازاد په کلی توګه له منځه تللی. دا په دی معنی ده چی دامریکی د بودجی دکمښت(کسر) غبرګونی باید په دوامداره توګه د فدرال بانک پواسطه د ډالریزو پیسو(اسکناسو) دچاپول پواسطه مالی ملاتړ وشی. هغه څه چی په نړیواله سطحه به دامریکایی ډالر ما تی نوره هم ګړندی کړی.

## پراخی پایلی

دنړیوال اقتصاد په بنسټونو کی دجوړښتونو بدلون به ډیری پراخه پایلی له ځان سره ولری چی په څو راتلونو کلونو او یا لسیزو کی به خپلی ټینګی اغیزی په سیاسی، ټولنیزو او ایډیالوژیکی برخو کی وشیندی.

په دی ځای کی به ددغو راتلونکواو نژدی بدلونونواوخوځښتونو کلیدی خصوصیات وپیژندل شی. هغه کلیدی خوځښتونه چی په نوی اقتصادی جوړښت کی به ایتلافونه ، نوی انډیوالی او همدارنګه هغه نه پخلاینی چی لودیځ هیوادونه اوپه خاصه توګه دامپریالیستی اصلی ځواک (امریکه) او دهغه اروپایی لارویان به ورسره مخ شی ، په ګوته کوی.

په پیل کی باید ددی خبری یادون وکړو چی د ډیرو لودیځو هیوادونو په مخکی داقتصادی او ټولنیزو کړاونو کلونه په مخ کی دی. دغه ډارونکی تصویرد هغه هیوادونو لکه برازیل، روسیه، هند اوچین داقتصادی مقابلی پروړاندی پروت دی چی په چټکی سره دودی په حال کی دی. دی بحران یوازی د لودیځ اقتصاد تر برید لاندی ندی نیولی بلکی دهغی ایډیالوژیکی مخ لید (روبنا) یی هم په غیږ کی نیولی دی. لودیځ نوی لیبرالیزم او دهغه سره تړلی اقتصادی جوړښت بی اعتباره شوی.

په داسی حال کی چی دلودیځ ګیچ شوی سیاسی مشران په پخوانیو پلو په ایډیولوژیکی توګه په پخوانی سیستم اومیکانیزم اولارو چارو منګولی خښی کړی دی. هغه لاری چی ډیر نور پورونه دپورنو لپاره دځان سره راوړی. په دی توګه دبحران اغیزی لاپسی ژوریږی او چاړواکی له پیښو او واقعیتونو څخه لیری تښتی. داکار ددی باعث شوی چی په ټوله اروپا کی سیاسی مشران خپل مشروعیت له لاسه ورکوی کوم چی په خپله دسیاسی سیستم لپاره د ګډوډی پیغامونه له ځان سره لری.

په همدی وخت کی دامریکی متحده ایالتونه ددی سیستم داصلی محور په توګه له کوره او له بهره د نسکوریدو( زوال) په لوری ده. دمنځنی طبقی چټکه تش لاس کیدنه(فقر) چی تراوسه دامریکا د مشرتابه لپاره ارزښتناکه ستنی دی، دامریکی دنسکوریدو یو بل دلیل بلل کیږی. دامریکی دچارو څارونکی په دی آند دی چی په نژدی کلونو کی به په امریکا کی دپام وړ ټولنیزی ګډوډی رامنځ ته شی : د« څیرنیزولاروچارو» دموسسی رییس جرالډ سلینګ دکورنی جګړی په شان ګډوډیو چی ددولت شتون تر پوښتنی لاندی نیسی، وړاندوینه کوی.

اوس به ډیره ستونزمنه وی چی ارزونه وکړوچی اوسنیو ګواښونوته په کتوبه دامریکی متحده ایالتونه دخپل کورنی سیاست دستونزو څخه د بیلاری کیدو لپاره په نویو جګړو لاس پوری کړی؟ اویا به دامریکی په دننه کی په بدلونونو لاس پوری کړی او خپلو ستونزو ته به رسیدګی وکړی؟

ولی د ډالر دبیی تدریجی رالویدنه به دهغه زوال د«ونډو دزیرمی» په توګه نورهم ګړندی کړی اوداکار به ددی باعث وګرځی چی دنړی نور هیوادونه به نور دامریکی دپورونو پانبی نه رانیسی. او دا په دی معنی ده چی واشنګټن به نور دخپلو جګړو بیه پخپله ورکوی اونور به ونتوانیږی چی هردم دنړی هرځای بمبارد کړی(انشاء الله-ژباړن). لکه دنورو هیوادونو په شان دامریکی لپاره یوازی همدا بدیل(الترنا تیو) شتون لری چی : « یابه کورمه نیسی او یا ګومله!» هغه وختونه نور له منځه تللی چی د دواړو درلودل یی ممکن کول.

## د یورو سیمه د دړی وړی کیدو په درشل کی

دیورو سیمه دنسکوریدو په درشل کی ده او دخپلوجوړښتی کمزورتیاوپه پایله کی په اوږد مهاله ناروغی اویا په ناځاپی مړینه محکومه ده. داروپا دغه شریکه پیسه په دوو غیر واقعی صورتونو کی ژوندی پاتی کیدای شی:

۱- یابه د برلینی بودجوی دیکتاتور تر بتی ګوتی لاندی چی دیورو دسیمی ترټولو اوچت دی، راځی چی داخپله دځان سره یو پیش شرط لری اوهغه داچی شریک هیوادونه به په سرتیتی پسه بدلیږی او د لسګونو کلونو لوږی په درلودولو سره به سر هم نه پورته کوی.

۲- په واقعی توګه دی یوه فدراله اروپاجوړه شی! په کومه کی چی به آلمان دیورو په سیمه کی دلږ تولیدونکو هیوادونومالی ملاتړ داوږدی مودی لپاره په غاړه نیسی. که د آلمان په فدرالی جمهوریت کی پرتو ستونزو ته چی دایالتونو دمالی توازن په مخکی پرتی دی وګورو، دمثال په ډول شتمن بایرن او بی وزلو زارلند او ماکلنبورګ ته په کتو روښانه کیږی چی په لویه اروپایی پیمانه چیرته چی ډیرو مالی زیرمو ته اړتیا شته، دا کار به اصلا ممکن نه وی. دیورو په سیمه کی هغو وروستیو ټولنیزو اړاو دوړ ته په کتو دا روښانوی چی ددی هیوادونو خلک نو ر د دیکتاتور آلمان، یورو، نیو لیبرالیزم او دټولنیزو خیرښیګنو له منځه تلو ته د درناوی سر نه ټیټوی.

آن تردی چی دیورو دستونزوداوارولو لپاره یوازینی مثبته اروپایی آیدیا هم داروپایی اتحادیی د ولسونو لپاره ګواښ ګڼل کیږی. ددوی ملی حاکمیت ته، ټولنیزو سازمانونو ته او ددوی سوبو اوټولنیزو بریاو ته .

داچی دمګړی دټولی اروپا دخلکو لپاره ددوی پیسه دیوی شریکی اروپایی پیسی په توګه خپل محبوبیت له لاسه ورکړی اونه یوازی دآلمان دپانګی بلکه دنورو هیوادونو دمشرانو لخوا باید وژغورل شی، تر ډیری کچی سیاسی او اقتصادی دلایل لری. یورو دخپل پیداینت له لومړیو څخه داروپا دیوالی لپاره دیوی جبری وسیلی په توګه رامنځ ته شوه، ولی په اقتصادی لحاظ دغه وسیله لا خامه وه او پخوالی ته نه وه رسیدلی او تراوسه همداسی پاته شوه.

دیورو دتصویب په وخت کی که نظرونو او څیړنو ته ځیر شو، نو ددی پیسی طراحان په دی آند و چی په نړی داغیزی اودهغی دویش پر سر دامریکی له کرکی ډکی ولکی ته په راتلونکی کی د اروپا دمتحده ایالتونو په وجود کی ودریږی.

ترهغه وخته چی ښکلی فضاء وه په اقتصادی لحاظ یورو مخ پرودی روانه وه. په اروپا کی هم په لومړیو کلونو کی داسی ښکاریدل چی یورو داروپا دیوالی او ټیکاو سره مرسته کړی او په نړیوالو مارکیټونو کی یی د ډالر لپاره دپام وړ ستونزی راولاړی کړی او د« زیرمه ایز ارز» په حیث یی ډالرله ګواښونو سره مخ کړی. په همدی وخت

کی اروپایی ټولنه « دامنیت اوله هویت څخه ددفاع» دسیاست په پایله کی په نړیواله سطحه دناټو دپوځی عملیاتو په مټ واوښت او په ۱۹۹۹ کال دیوګوسلاویا دجګړو دتجربو په رڼاکی سمدلاسه بروکسل، واشنګټن او ناټو دنړی په نورو سیموکی دلاس وهنی او د ګډو پوځی عملیاتو دترسره کولو لپاره خوله په خوله شول.

## دسامراج بیرته ستنیدل

د ۲۰۰۶ کال په دسامبر کی د کوزوو دجګړی کارپوه او دناټو دکړنلارو مدیر جیمی شیا دناټو په عمومی ناسته کی چی د« ددفاع او امنیت کمیټه» تر نامه لاندی په اروپایی پارلمان کی جوړه شوی وه داروپایی اتحادیی او داطلس دسمندر هیوادونو ترمنځ دکار دښه ویش اعلام وشو، ځانته دنور پام وګرځاوه.
جیمی شیا ددی ویش په هکله وویل چی په لومړیو کی باید اروپایی اتحادیه غیرپوځی شریکو ګټو ته پاملرنه وکړی او پوځی چاری د ناټو پرمخ بوزی. په سیمه ایزه توګه باید د افریقا پخوانی مستعمری دبروکسل(اروپایی ټولنی) لخوا او منځنی ختیځ دناټو لخوا ترکنترول لاندی ونیول شی.
دلویدځو هیوادونو پواسطه دټولو وچو لپاره دکار دغه نوی ویش دا په ډاګه کوی چی په ۱۹۹۱ کال کی د هغه وخت دسوسیالیزم ترړنګیدو راوروسته دهغه څه په لور یو محافظه کارانه جوړښت شوی چی کټ مټ د ۱۹ پیړی غوندی چیرته چی استعمار خپلولوړو څوکو ته رسیدلی و اوټوله افریقا اوډیری آسیا داروپایی هیوادونو ترولکی لاندی وی( پولنډ چی په۱۹ پیړی کی په اروپا کی یو کمزوری هیواد و اومستعمره یی نه درلوده نو دنورو اروپایی استعمارچیان لخوا د ماداګسکر ملکه به په افتخاری توګه دپولنډ څخه تاکل کیده – ژباړن)
په همدی وخت کی کولای شوچی د واکمنی طبقی په کړنو کی هماغه دتیر سامراج(استعمار) کبر اوغرور له ورایه وګورو چی په هماغه له کبره ډکو غوښتنواو پراخیتا غوښتنی سره دنورو حقوق تر پښو لاندی کوی او هماغه د زور اووسلو دسوبه داری سیاست په مخ وړی. په واقعیت کی لودیځو ځواکونو داروپایی اتحادیی او ناټو په فضا کی په ۱۸۸۷ کی دبرلین دکنګری او په ۱۸۱۵ کی دویانا دکنګری لپاره یو ساری(همتا) پیدا کړی. په هماغه شکل چی ټوله افریقا د استعماری هیوادونو ترولکی لاندی وی.
یو وخت و چی دمالی بحران او زیرمو دکمښت په پایله پوځی مداخلو ته په ښه سترګه کتل کیدل، ولی اوس یی ځای شکونو او ګوابښونو نیولی چیرته چی په ټوله نړی کی دنوی نظم لپاره دامریکی اوناټو لخوا جګړی پیل شوی چی په ټولو برخوکی له ما تی سره مخ دی، کیدای شی ډیری ناوړه پایلی دځان سره ولری. ددی خبری دثبوت لپاره ترټولو غوره د افغانستان اوعراق جګړی اوپه دا اوس کی دلیبیا جګړه ده.
دآلمان دپوځ دټولنیزو علومو دموسسی د۲۰۱۱ کال په کلنی راپورکی چی همدا اوس خپورشوی، په هندوکش کی دلودیځ دماتی اویا د«ټولی نړی له لاسه وتلوسیاست» څخه چی لودیځ یی دنړیوال نظم لپاره په لاس کی لری پرده پورته کوی.
په دی هکله دامریکی دملی امنیت دپخوانی سلاکار او دنوی لیبرالیزم دتیوریسن زبیګنیو بژیژنسکی هغه څرګندونی دپام وړدی چی تیر کال یی کړی وی.هغه داسی وایی چی : لودیځ جګړه ماران په خپل لوړ پوځی زور کولای شی سرغړونکی هیوادونه وځپی ولی دخلکو غوښتنی نشی کنترولولای. دبشر په تیر تاریخ کی دسیاست کنترولول هیڅکله هم دومره ستونزمن نه و.

په طبیعی ډول ډیر کلونه به تیر شی چی امریکایی سیاستوال اودهغوی اسراییلی لابی چی بیله دمی «په ایران دبمونو اورولو» ناری سوری وهی دی ټکی ته متوجه شی. دوی په یو ډول روانی ناروغی اخته دی او فکر کوی چی امریکا دپخوا په شان ځواکمنه ده اوتراوسه یی نده تشخیص کړی چی هیواد یی دیوالی شوی.

نوردا موضوع په روښانه توګه وینی. دترکیی ددموکرات ګوند مشر نامیک کمال لا پخوا داخبره کړی وه چی دایران پروړاندی دامریکی یوه جګړه به ددغه هیواد دړی وړی کیدل نور هم چټک کړی اوهغه به نسکوریدو ته ورسوی.

دروسیی دبهرنیو چارودوزارت ددیپلوماتیکی اکاډمی رییس ایګور پانا رین چی ډیر کلونه په کرملین کی مشاور پاته شوی ، وړاندوینه کوی چی په همدی لسیزه کی به دامریکی اقتصادی اواخلاقی نسکوریدنه پیښه شی او هیواد به په یوه کورنی جګړه کی راګیر شی او داکار به دامریکی ویش په دریو اویا څلورو ایالتونو باندی له ځان سره راوړی.

آیا پاناترین او دامریکایی چارو څیرونکی کلنته دواړه خیال بافی کوی؟ اویا په دی نظریه کی داسی ریښتینوالی هم پروت دی چی هغه ټولنه چی دنړی له ګوټ ګوټ نه په مهاجرو جوړه ده نور ددی مهاجرو لپاره سوکاله ځمکه نده اویا دومره ټینګه نده چی له مرکزنه دتیښتی ځواکونو په وړاندی مقاومت وکړی. هغه ځواکونه چی دخپلوسیاستوالو او اقتصادی مشرانو داخلاقی زوال اوله سترګونه دخلکو دغورځولوپه خاطر آزاد ګرځی؟

دی پوښتنی ته اوس ځواب نشی ورکول کیدای اومونږ یوازینی کسان نه یو چی داسی پوښتنی مو مخی ته راځی.

اوس اوس داروپایی پانګی ډیر استازی دا پوښتنه کوی چی دکمزوری په لور روانی امریکی سره به دغه خړی پړی اړیکی په راتلونکی کی دوی ته کومه ګټه هم دځای سره راوړی او که نه؟

تردی بل کوم مناسب وخت دی چی دامپریالیستی همکاریو په دغه سیستم کی چی اروپایان دځوانو شریکانو رول لوبوی پای ته ورسوی اودیوه ښکاره سیال(رقیب ) په څیره کی دواشنګټن په مخ کی ودریږی.

دغه پوښتنی اوپه راتلونکو کلونو کی نوری راولاړی شوی پوښتنی به دامریکی سره اړیکی په پراخه پیمانه بدلی کړی. البته دغه کار به په ټوله اروپا کی یو شان نه وی. همدا اوس په اروپا کی ځینی دامریکی پلوی کوی او ځینی بیا دخپلو ملی ګټو په غم کی دی. اوپه وروسته که به دا په دی پوری تړلی وی چی یورو په څومره چټکی راپریوزی او یویو هیواد به اغیزمن کوی.

دنوبل دجایزی الترناتیوګټونکی یوهان ګالتونګ چی دشوری امپراتوری د راپرځیدلو دقیقه وړاندوینه یی کړی وه داسی وایی چی دامریکی امپراتوری به تر ۲۰۲۰کال پوری نسکوره شی. دغه وړاندوینی دنوروااقعبینانه اقتصادی څیړنو لخوا هم څرګندی شوی. دلته پوښتنه راولاړیږی چی آیا یورو به د اتکل شوی زمانی تر نیمایی پوری ژوندی پاتی شی؟ ځکه تر دمګړی هغه ستونزی چی بحران له ځان سره راوړی یوه ذره یی هم ندی اواری شوی. دا ستونزی کیداشی دآلمانی پانګی هغه خوبونه چی دبرلین تر ولکی لاندی اروپا لپاره یی وینی په اوبو لاهو کړی.

راینر روپ

سرچینه: یونګه ولت